Working
together



PS


# یو نوي پیل په رومانیا کښې

## لارخونه هغه خلکو لپاره چه رومانیا کښې ورته قبولی ورکړ شوي ده

## (مهاجرین اوهغه خلک چه قبولی لری)

د پروژې محتوا "هیواد ته د لاسرسي لپاره مدافع وکیل ورکول، د نړیوال خوندیتوب په اړه معلومات، د ماشومانو حمایت او د کډوالو ادغام" 2023 - تمویلونکی UNHCR

جون ۲۰۲۳




## د رومانیا په اړه

ددینه مخکی چه پیل وکړو، بهتر دا ده چه هغه ملک چه تاسوته پناه ورکوي د هغه په باره کښی معلومات ولري. رومانیا د اروپا په شرق کښی موقعیت لری، غرب خواته هنګری، جنوب غرب خواته صربیا، اوکراین او مولدووا په شمال شرق کښی او بلغاریا جنوب خواته پروت دي.

په ګوګل نقشه کې
د رومانیا نقشه
لیدلو لپاره کوډ
سکین کړئ

د رومانیا پایتخت بخارست نومیګی، بخارست د رومانیا ټولونه غټ ښار ده او د رومانیا په جنوب شرق کښی موقعیت لری او تقریباً دوه میلونه نفر نفوس لري.

بخارست نه بغیر، رومانیا کښي نور اقتصادی او مهم ښارونه هم شته چه په لاندی ډول ده: براشو، تیمیشواره ، یاش ، کونستانتسه ، کلوژ – ناپوکا ، بایه ماری ، ساتو ماری ، کرایووا ، سوچاوا ، سیبیو ، او داسی نوری مهم ښارونه.

د مهاجرینو او پناهندګانو لپاره کمپونه، چیرته چه مهاجرین او پناهندګان اوسیګی او ژوند کوی او دغه کمپونه په ۶ ښارونه کی تقسیم شوی ده چه په لاندی ښارونو کښی موقعیت لري : بخارست ، جیورجیو ، ګالاتس ، تیمیشواره ، شومکوته ماری (شومکوته ماری، بایا ماری سره نژدی ده) او ردوتس.

## چاته مونږ مهاجر یا پناهنده ویلی شو چه هغه ته بین المللی پناه ورکړل سی؟




هر هغه څوک (هر هغه خارجي) چه د رومانیا د قوانین مطابق مهاجر یا پناهنده بلل کیږی او هغه ته د رومانیا د حکومت له طرفه پناه ورکول کیږی هغه ته مهاجر او یا پناهنده ویل کیږی. پناه یا د مهاجرت حق د مهاجرینو عمومی دفتر او یا د محکمه له خوا مهاجرینو او یا پناهندو ته ورکول کیږي.

**مهاجر او یا پناهنده هغه** چا ته ویل کیږی چه د مجبوریت ، جنګ ، اویا خشونت له کبله خپل اصلی وطن پریخودته اړ سوی وي. هر هغه څوک چه خپل وطن کښی قومی ، مذهبی ، لسانی ، سیاسی او یا کوم اجتماعی مشکل ولری نو کولی شی چه د مهاجرت او یا پناه لپاره کوم بل ملک کښی تقاضا وکړي. او د خپل مشکلاتو له عمله نشی کولای چه خپل هیواد ته لاړ سی او یا نغواړی چه بیرته خپل هیواد ته لاړ سی. د رومانیا په هیواد کښی د پناهندګی حق چه د جینوا د معاهده په اساس د مهاجرینو په باره ده او د رومانیا دولت دغه معاهده په ۲۸ جولای ۱۹۵۱کښی امضا کړی د رومانیا د دولت له طرفه خارجیان او هر څوک چه دغه شرایطو سره سم وی منل سوی ده او دغه حق ورته ورکول کیږي چه د ۴۶/۱۹۹۱ قانون مطابق او د رومانیا ۱۲۲/۲۰۰۶ او OG 44/2003قانون کښی قبول او ثبت سوی دی.



**قبولی او یا حفاظت جانبی** ، دا هم د قبولی یو ډول ده چه د رومانیا د دولت له اړخه ورکول کیږی خارجیانوته او یا هر څوک چه ددغه حقدار وی. دا ډول قبولی هغه خلکوته ورکول کیږی چه د هغوی مشکلات د جینوا د معاهده سره سمون ونخری او دا ډول قبولی د اتحادیه اروپا له خوا نه د دغه معاهده EU/۲۰۱۱/۹۵ په اساس نور هیوادونه چه د اتحادیه اروپا غړی دی، ته اجازت ورکوی چه خارجیان قبول کړی او اقامت ورته ورکړی. دا ډول قبولی هغه خلک ته ورکول کیږی چه مشکلات یی د پناهندګی قانون سره سمون نخوری ، او هر اروپایی هیواد دهغوی مشکلات برسی اود مشکلات په اساس (یعنی خپل وطن کښی ژوند یه یي خطر ده) قبولی ورکړي.

بعد د دینه چه تاسوته پناهندګی درکول کیږی ، تاسوته د مهاجرینو د عمومی دفتر لخواه لاندی عکس غوندی یو کارت درکول کیږي . ټول هغه خلک چه قبولی ورته ورکول کیږی همدا کارت د دولت له خوا نه ورته ورکول کیږی او دغه کارتونه د ۲ او یا ۳ کلونو (فرق کوی د قبولی په اساس) لپاره ده او دهغه نه بعد دوباره تمدید کیږي. دغه کارتونه تاسو ته وړیا درکول کیږی د دولت له طرفه. تا سو نه غواړو چه د کارت مخصوص شمیره باید حفظ کړی.

**موږ په مهربانۍ سره وړاندیز کوو چې تاسو هر وخت خپل د اوسیدو اجازه په ځان کې وساتئ او خپل CNP کوډ حفظ کړئ.**




**د کارت نمونه چه قبول سوی مهاجرین او یا پناهندگان ته ورکول کیږي**

دغه شمیره هر نفر ته ورکول کیږی چه د CNP په نوم یادیګی او ډیر مهم شمیره ده ځکه چه دغه شمیره هر نفر ته مخصوص وی او نور خلکو سره فرق کوي . دغه شمیره ستا سو په کارت باندی لیکل سوی ده البته دا په هر کارت هر نفر ته خپل شمیره لیکل کیږی. دغه شمیره د کارت په آخری قسمت کښی لیکل سوی وی.

لاندی ذکر شوی اسنادونه هم باید تا سو سره وی :

- **د زیږدلو اسناد.** که چیرته ستا سو ماشوم په رومانیا کښی پیدا سی نو هرومرو د نفوسو او احوال په اداره کښی باید ثبت شي. د تولد راجستریشن پروسه یوه حتمي پروسه ده چه ستا سو ماشوم په دغه پروسه کښی ثبت کیږی او باید د نفوسو او احوال په بخش کښی ثبت او راجستر شی او د هغه په اساس **د زیږدلو اسناد** ورکول کیږي.
- **پاسپورت یا د سفر اسناد.** تاسو هغه وقت د رومانیا نه دباندی سفر کولای شی چه پاسپورت او یا د سفر اسناد ولری. پاسپورت یا د سفر اسناد د مهاجرینو د عمومی دفتر لخوا اجرا کیږی که تاسو غواړی چه پاسپورت واخلی نو باید عریضه وکړی او د هغه فیس بانک کښی جمع کړي.

> **دا ډیر ضروری ده چه تاسو باید ټول د قبولی اسناد چه د مهارجرینود عمومی دفتر او یا د محکه له خوا درکړل سویده باید و ساتي.**
> **تا سوته چه کوم رسمی اسناد درکول کیږی هغه لري مه اچوي او هغه باید خه وساتي ځکه چه په آینده کښی ستا سو پکاریږي.**

## د مدغم (یو خای کیدو) پروګرام

د ادغام پرواګرام د یو تعداد خدمات او امکانات نه جوړ شوی چه د رومانیا د دولت له خوا او د مهاجرینو د عمومی دفتر کارمندان په زریعه مهاجرینو باندی تطبیق کیږی. که چیرته تاسو قبول سوی یاستی د مهاجر او یا پناهنده په حیث رومانیا کښی، تا سوته بهتر ده چه دغه پروګرام کښی برخه واخلی تر سو د رومانیا اجتماع سره آشنا شي.

> **تا سو کولای شی چه دغه پرګرام کښی ځان شامل کړی البته دخپل قبولی(قبولی د مهاجرینو عمومی دفتر او یا د محکمه نه)نه وروسته د ۳ میاشتو په جرایان کښی.**
> **د ۳ میاشتو نه بعد ته نور په دغه پروګرام کښی ثبت نام نشی کولای. بهتر داده چه د دغه چانس نه د انکار نه مخکی خه فکر وکړي ځکه چه بیا چانس نلری !**

د ادغام پروګرام لاندنی ذکرشوی امکانات لري:

- تاسو کولای شی چه د مهاجرینو د عمومی دفتر په کمپونو کښی ژوند وکړی البته که چیری تاسو وغواړی، او تا سو کولای شی چه تر ۱۲ میاشتی پوری هلته ژوند وکړي ؛
- که چیرته تاسو دغه پرواګرام کښی ځان شامل کړی نو تا سو کولاي شی چه د رومانیایی ژبه زدکړه ته لاړ شې البته ۱۲ میاشتو پوری؛
- طبی امکانات ، رهنمایی ، اجتماعی خدمات او همداسی د روانشناسی معاینات او خدمات؛
- د کار پیدا کولو لپاره لارخودنه او کمک. مسول شخص تاسوته لارخونه کوی البته ستاسو د حقوق مطابق ، مسلکی کورسونه که ځای ولري ، ستاسو د تعلیمی اسنادونو ارزیابی او راجستر کول هغه دفتر کښی چیرته

چه د کار پیدا کولو مسولیت لری؛

- د ماشومانو لپاره کوم اجتماعی او مالی امکانات چه موجود دی هغوی نه گته اخیستل ;
- د دغه پرواگرام په پایل کښی، تاسو کولای سی مالی مرسته ته عریضه وکړی ځکه چه تاسو د کمپ نه د باندی به ژوند کوی او ستا سو د مصارف ۵۰٪ (د کور کرایه ، د برق، اوبه او گاز بل) به د رومانیا له دولت له طرفه به ورکول سی.

**په دغه پرواگرام (ادغام پروگرام) کښی د ثبت نام کولو نه بعد تاسو لاندی مسولیتونه لری:**

- تاسو باید دغه پروگرام ته روزانه حاضر شی او د خپل روزانه په فعالیتونه کښی دا شامل کړی.
- د کمپ (چیرته چه اوسیگي) داخلی نظم باید مراعات کړی.
- د هر ډول تغیرات (هغه تغیرات چه دغه پرواگرام سره اړه ولری او یا هغه مالی کمک چه د دولت له خوا نه تا سو ته کيږي) په باره کښی تاسی باید د مهاجرینو عمومی دفتر ته اطلاع ورکړي.

تاسو کولای شئ چې د ادغام له افسر څخه وغواړئ چې د ادغام پروګرام تر 3 میاشتو لپاره وځنډوي، او خپل قناعت بخش د دلیلونو وړاندې کړې چې تاسو ولی په فعالیتونو ګډون نیسي کولاې.

## مالی کمک مهاجرینو یا پنهاهندو سره

دغه مالی کمک تاسو سره په شروع کښی کیږی تر سو تاسو وکولای شی د رومانیا په جامعه کښی بلد شی او تاسو ته کوم مشکل نوی د ادغام په جریان. تاسوته دغه کمک 12 میاشتو لپاره درکول کیږي.

دغه کمک تاسو سره کیږي تر سو تاسو وکولای شی چه خپل ابتدایی ضروریات رفع کړي لکه د برق، گاز او اوبو مصارف یا کالي او یاخوراک (مواد غذایی) او یا داسی نوری ضروریات. دغه کمکونه د لاندی شرایطو پر اساس تاسو ته درکول کیږي. په هغو فعالیتونو کې چې د ادغام په پروګرام کې چمتو شوي دي، ګډون وکړي . که تاسو د ادغام په پروګرام کې نوم لیکنه نه کوئ او یا تاسو په فعالیتونو کې برخه نه اخلئ، دا مرستې به وځنډول شي یا لغوه شي.



تاسو باید خپل عریضه د مهاجرینو عمومی دفتر مسول کارمند ته ورکړي، او تاسو باید زر تر زره خپل عریضه د ۳ میاشتو په جریان د قبولی نه بعد باید جمع کړي. که تاسو د ۳ میاشتو په جریان عریضه ونکړی ، نو تاسو دغه حق د لاسی ورکوی.

د مهاجرینو عمومی دفتر مسول نفر ستاسو ټول اسنادونه ځان سری نیسی. تاسو باید یاد ولري چه دغه کمک موقت ده او صرف یو ځل په ټول جریان کښی تا سو سره کمک کیږی او همیشه لپاره نده . دا ډیر مهم ده چه تاسو باید خپل مصرف پیدا کړي یعنی باید ځان ته قانونی کار پیدا کړي او یا کوم شخصی تجارت شروع کړي.

## خپل خاندان او یا د کور غړو سره یو ځای کیدل

که چیرته ستاسو د کورني غړي لکه (میرمن ، خاوند ، ماشومان ، مور او پلار مشکل ولري)، تا سو کولای شی چه هغوی رومانیا ته را وغواړي او خپل فامیل سره یو ځای سی.

تا سو خپل د کور غړي یا فامیل هغه وقت رومانیا ته راغوختی شی چه تاسوته رومانیا کښی قبولی در کړل سی. د خپل کور غړی راغوختل په باره کښی تا سو د مهاجرینو عمومی دفتر غړو نه معلومات اخیستی شی.

**باید تاسو په یاد ولری چه ستاسو د ادغام پرګرام په رومانیا کښی د مهاجرینو عمومی دفتر مسولیت او د هغوی کار دی. د مهاجرینو د عمومی دفتر نه علاوه نور غیر دولتی سازمانونه هم شته چه تا سو ته کمک او همکاری کوی.**

د GII ویب پاڼي ته
د نوتلو لپاره کوډ
سکین کړئ

تا سو د پورتني حقوقو نه علاوه ،لکه یو رومانیایی د ټولو حقوقو برخوردار یاست ، **صرف تاسو سیاست کښی برخه نشی اخیستی.**

## طبی خدمات

تا سو حق لری چه تاسو ته طبی خدمات درکړ سی او لکه نور رومانیایان غوندی باید ستا سو علاج وشی. په رومانیا کښی، هر نفر باید صحی بیمه وکړي او د دغه صحی بیمه نه بعد کولای شی چه د طبی خدمات نه ګټه واخلي. که چیر ته تاسو لاندنی شرایطو سره برابر یاست نو ستا سو صحی بیمه مفت ده:

- که ستا سو عمر ۱۸ نه کم وی ؛
- که چیرته ستا سو عمر د ۲۶-۱۸ پوری وی او تاسو متعلم یا محصل اوسی او مالی عاید ونلري ؛
- که تاسو معیوب یاست او د معیوبیت اسناد ولری؛
- که تاسو حامله یاست او تاسو منظم مالی عاید نلری چه د دولت تعین سوی کمترین معاش نه زیاد نه وی او یا د هغه مساوی؛
- خاوند/میرمن صحی بیمه لری او تاسو کوم مالی عاید نلری(شریک بیمه)



**د دلپاره چه تاسو د صحی بیمه خدماتو نه ګټه واخلی او بیمه شي ، اول باید چه تاسو د صحی بیمه عمومی دفتر ته لاړ سی او ځان هلته ثبت کړی تر سو تاسو وکولای سی چه فامیلی ډاکټر ولري.**

که تا سو چیرته رسمی کار کوی نو هغه دفتر مجبور او مکلف ده چه ستاسو صحی بیمه لپاره پیسه تحویل کړی د صحی بیمه په دفتر کښی.

که چیرته تاسو په دغه پورتني لست کښی نراځی، نو تاسو باید د خپل صحی بیمه لپاره پیسه تحویل کړي تر سو چه د طبی خدمات نه ګټه واخلی. مونګ تاسو ته پیشنهاد کوو چه د خپل قبولی نه بعد خپل صحی بیمه تحویل کړي تر سو تاسو وکولای شی چه د رومانیا د طبی خدمات نه ګته پورته کړي.

که چیرته تاسو خپل صحی بیمه په وقت سره جمع نکړي، نو تاسو مجبور یاستی چه د ۶ میاشتو پیسه یوځای تحویل کړي.

## کار کول



کار کول او د ځان مصرف پیدا کول(خپل خپو باندی دریدل) یو اساسی اصول دی په ادغام کښی.

تا سو کولای شی چه رومانیا کښی کار وکړی او لکه یو رومانیایی غوندی تاسو د کار حق لری.

**د کار کولو لپاره تا سو رومانیا کښی کوم اجازت خط ته ضرورت نلري.**

هر څوک چه تاسو ته کار درکوی (په کار مو نیسی) تا سو نه د کارت یا ویزه پوختنه کوي، صرف د لپاره چه پوه شی آیا تاسو رومانیا کښی قانونی اوسیگی یا نه. د زیادتر معلومات او کمک لپاره د مهاجرینو عموم دفتر غړی سره په تماس شی او همداسی د خپل ښار، ناحیه چه چیرته تاسو ژوند کوی او ستاسو کور ده، هغه د کار دفتر چه کار پیدا کوی  هغه ته هم لاړ سی معلومات و همکاری لپاره، ځان ثبت کول د هغو خلکو په لست چه کار کول غواړي او کار لټوي. بعض مسلکی کورسونه هم شته چه تاسو کولای شی چه هلته ځان شامل کړي د خپل ضرورت او میل مطابق د دلپاره چه ستا سو تعلیمی سویه پورته سي.

## زدکړه



هر هغه څک چه رومانیا ورته قبولی او پناهنگی ورکوی ، نو هغه لکه یو رومانیایی غوندی حق لری چه مکتب ته لاړ سی او درس ووایی. ددنه علاوه تاسوته د رومانیایی ژبی کورسونه هم سته چه تاسو لاړ سی او هلته رومانیایی ژبه زده کړي او د رومانیایی ژبه زدکړه نه بعد تا سو کولای شی(امکانات او چانسونه سته) چه رومانیا کښی خپل تحصیل پیل او ادامه ورکړي. د ماشومانو زدکړه په اړه د رومانیا د دولت له طرف خاص قوانین سته چه ماشومان باید زر تر زره مکتب کښی داخل او خپل درسونه شروع کړی.

## اجتماعی خدمات او فواید

یو تعداد اجتماعی خدمات او فواید سته چه تاسو د قبولی (پناهندگني) نه بعد هغوی نه تاسو  گټه اخیستی شی (اجتماعی خدمات او فواید لاس رسی  پیدوا کوی). تا سو باید د مهاجرینو د عمومی دفتر کارمند نه پوختنه وکړي چه څنګه تاسو کولای سی چه دغه اجتماعی خدمات او فواید نه گټه واخلی او همچنان چه سه اسناد په کار ده. هغه دفتر چې دغه خدمات تر سره کوی:عمومی دفتر د اجتماعی خدمات او د ماشومان حفاظت په نوم یا دیري. په رومانیایی ژبه کښی ورته Direcția Generală de Asistență Socială și Protecția Copilului وایی.




**که تاسوته کوم عاجل مشکل پیدا کیږی نو تاسو کولای سی چه هر تلفون نه په هر وقت او له هر ځای نه په دغه ۱۱۲ شمیره سره په تماس کښی سي.**
**دغه شمیره مستقیما پولیس، امبولانس او اطفایه ته روخ کیږي**

## راتلونکو لپاره

کوم بله لاره او یا کوم بله چاره نسته چه تاسو سره کمک شی چه تاسو د رومانیا په جامعه کښی بلد سي. هر هغه هیواد چه تاسوته قبولی او پناهندگی ورکوی هغه د ادغام پروګرام مسولیت په غاړه نیسی او تاسوته هر هغه امکانات چه لازم وی درکوی، نور ستا سو کار ده چه سنگه دغه امکانات نه کار اخلي او سنگه کولای شی چه د رومانیا د جامعه یو فعال غړی ځان بدل کړي.

I. G. I.

Working together

UNHCR
The UN Refugee Agency

Consiliul Național Român pentru Refugiați

## د کډوالو لپاره د رومانیا ملي شورا (CNRR)

پته: کوڅه ویسپاریلور نمبر. 19، دوهم پوړ، سکتور 2، بخارست
ټیلیفون: 10 62 312 021 4+
فکس: 10 62 312 021 4+
ایمیل: office@cnrr.ro
www.cnrr.ro

## د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر - په رومانیا کې استازیتوب ( UNHCR رومانیا)

سکتور 1، بخارست ،A پته: بلیواردول پریماوری نمبر. 48
ټیلیفون: 651 653 0723 4+
ایمیل: rombu@unhcr.org

## د مهاجرت عمومي دفتر - د پناه غوښتني او ادغام څانګه

سکتور 4، بخارست ،A پته: د تودور ګوچیو کوڅه، نمبر. 24
ټیلیفون: 34 11 450 021 4+
فکس: 29 17 450 021 4+
ایمیل: dai.igi@mai.gov.ro

## د توجه وړ خبره:

دغه پورتنی معلومات د مهاجرینو د عمومی دفتر او د ملل متحد د مهاجرینو عالی کمیساری په رومانیا کښی UNHCR په همکاری آماده او جوړ سوی دی. دغه پورتنی متن د یو غیر دولتی سازمان چه رومانیایی ملی شوراد مهاجرینو (CNRR) لپاره نومیګی جوړ سوی او دهغه مالکیت ده او همداسی مسولیت هم د هغوی په غاړه ده. دا پورتنی متن د ملل متحد د مهاجرینو عالی کمیساری پوری اړه نلری او نه د هغوی موقف ښایی.